د يوه سړي لپاره روا ندي چې خپل ورور له دريو شپو څخه زيات پريږدي، کله چې يو له بل سره مخ کيږي نو دا ترې مخ اړوي او هغه هم ترې مخ اړوي، او د دوی تر منځه غوره هغه څوک دی چې په سلام سره پيل وکړي

له ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "د يوه سړي لپاره روا ندي چې خپل ورور له دريو شپو څخه زيات پريږدي، کله چې يو له بل سره مخ کيږي نو دا ترې مخ اړوي او هغه هم ترې مخ اړوي، او د دوی تر منځه غوره هغه څوک دی چې په سلام سره پيل وکړي". [صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې څخه منع فرمايلې ده چې يو مسلمان خپل مسلمان ورور له دريو شپو څخه زيات پريږدي (اړيکه ورسره پرې کړي) پداسې حال کې چې کله هر يو له بل سره مخ کيږي نو سلام پرې نه اچوي او نه ورسره خبرې کوي. د دغو دوو جګړه مارو تر منځه غوره هغه څوک دی چې د پريکون له منځه وړلو هڅه کوي، او په سلام پيل کوي، او دلته له پريکون څخه موخه د ځان په خاطر پريښودل دي، او د الله تعالى لپاره (د يو چا) پريښودل؛ لکه د ګناهکارانو، بدعتيانو او بدو ملګرو پريښودل نو د دې لپاره نېټه نه ټاکل کيږي، بلکه دا پريکون به د مصلحت پورې تړلي وي، او د مصلحت په له منځه تللو سره به له منځه ځي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5365